# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲ /ذوالقعدة الحرام/۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ۲۱ / ثور/۱۴۰۳هـ، ش**

## په ورځني ژوند کې د نرمښت اهميت او د غصې ناوړه پايلې

الحمدلله العليم الحليم،والصلاة والسلام على النبي محمد الرؤوف الرحيم، وعلى آله وصحبه مَن اتصفوا بالخلق العظيم، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى:(وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ).آل عمران : (١٣٤ ) أوكما قال تعالى:(وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ).فصلت: (٣٤)

په دنيا کې انســـان د مختلفو او ډول ډول خلکو په منځ کې ورځنی ژوند تيروي او د هر قســـم خلکو سره مخ کيږي لکه مور، پلار، ورونه او خويندې،ګاونډيان او همسايه ګان چې په دوی که به ځينې د ښو اخلاقو خاوندان وي او څوک به د بدو اخلاقو خاوند وي، ځينې به عالمان وي او ځينې نور به جاهلان او د جفا خاوندان وي، که چيرې په ورځني ژوند کې نرمښـــت اختيار نشي۔ نو ددې امکان شـــته چی خپله به هم تل خپه وي او خپل او خپلوان به هم ورځخه خپه وي .په کورنيو کې به تل زړه بداوی موجود وي او خپلولي او صله رحمي به زيانمنه وي.

همدا رنګه انســـان ټولينز او مدني الطبع مخلوق دی او اړ دی چې په ټولنه کې ژوند وکړي، کار وکړي،کســـب وکړي ، تجارت او دوکانداري وکړي ، مزدوري وکړي، ماموريت او حکمراني وکړي، امامت او خطابت وکړي او مسـؤوليت په غاړه واخلي، لازمي خبره ده  چې په ژوند کې به د هر ډول خلکو سره مخ کيږي له بدخويه خلکو سره به مخ کيږي، د عجلې والا خلکو سره به مخ کيږي، د قهرجنو  او کبرجنو سره به مخ کيږي، دجاهلانو او ناپوهانو سره به مخ کيږي او د ظالمانو سره به هم مخ کيږي؛ که چيرې دداســـې خلکو په مقابل کې له نرمښـــت څخه کار و انه اخلي او له بدخويه، په اخلاقو کمزورو، جاهلانو او کبرجنو خلکو سره بالمثل چلند وکړي، نو ممکن په زياتو کړاونو، مصـــيبتونو او دښـــمنيو باندې اخته شي او ژوند به يې له غمونو ډک شي او په ټولنه کې به هم بې اتفاقي، جنګونه ، نفرتونه  او شـــخړې زياتې شي او د محبت، متقابل احترام او صميميت ځای به دښمنی ونيسي.

په ورځني ژوند کې نرمښت انسان له بدمرغيو څخه ژغوري او له آفتونو او مصيبتونو څخه يې ساتي.

بايد د مور اوپلار سره په نرمښـــت ژوند وشي او هغوی ته نرمه لهجه وکارول شي، که څوک دولتي مسـئول وي بايد له مراجعينو سره  په نرمه لهجه او پوره حوصـــله خبری وشي، يتيمان،بچی او شـــاګردان هم د نرمې لهجې محتاج او مستحق دي. بيا د کفارو سره د غلظت او بالمثل عمل چې جائز وي کار واخيستل شي لکه چې الله تعالی:(مُحَمَّدٌ رَ سُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ).فتح: (٢٩)

ترجمه:- محمد د الله رسول دی او هغه کسان چې له ده سره دي،په کافرانو باندې ډېرسخت دي، په خپل مینځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي

که چیرې د ر سول الله صلی الله علیه و سلم ژوند ته وګورو وینو چې کفارو ، مشرکینو او منافقینو ر سول الله صلی الله علیه وسلم ته څه ډول ناکاره الفاظ کارول ، خو بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل دعوت ته ادامه ورکوله او ددوی سره یې په بالمثل معامله نه کوله؛ ځکه خو الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې خوی فائده داسې بیان کړی ده: {فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ } آل عمران: (۱۵۹)

ترجمه:- نو (یواځې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی لپاره نرم یې او که چېرې ته بدخویَه، سخت زړی وَی (،نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو، نو دوی ته معافي کوه، او د دوی لپاره بخښنه غواړه

پیغمبرصلی الله علیه وسلم له ټولو انسانانو څخه زیات حلیم او نرم خویه ؤ، الله ورته امر کړی ؤ چې عفوه خپل خوی وګرځوي او د ناپوهانو له ناسم چارچلند څخه مخ واړوي او د دوی بدیو او ناوړه معاملوته په نیکۍ ځواب ورکړي، نو هغه تر ټولو غوره امام او لارښوود دی چې باید په هغه پسې اقتداء او له هغه پیروي وشي .

نرمښت او ښښل دالله تعالی صفت دی.د قرآن کریم په بې شمیره آیتونو کې راځي چې الله تعالی حلیم ذات دی او ژر چاته سزا نه ورکوي.(وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ).البقرة:(۲۳۵) په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ). (آل عمران: ۱۵۵)

نرمښت د ر سولانو او پیغمبرانو صفت دی. الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په باره کې فرمایلي دي:( إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ).التوبة:(۱۱٤)

ترجمه:- بېشکه ابراهیم خامخا ډېر نرم زړی، ډېر حِلم والا و

دا چې نرمښت د مسلمان په ژوند کې زیاتې ګټې لري الله جل جلاله په قرآن کریم کې ځای پرځای د صبر ، عفوې او حلم صفت کړی دی او مونږ تاسو یې ورته دعوت کړي یو. الله تعالی فرمايي : (وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَإِنَّ ذَلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الأُمُورِ). الشوري ( ٤۳)

ترجمه:- او یقینًا هغه څوك چې صبر یې وکړ او بخښنه یې وکړه، بېشکه دغه (صبر او بخښنه) خامخا له غوره کارونو څخه دي

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمايي: (خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ). الأعراف:( ۱۹)

الله تعالی د هغه چا صفت کړی دی چې خپله غوصه کنټرولوي او خلکو ته د هغوی د ناوړه چارچلند ښښنه کوي. ( وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ). آل عمران :( ۱۳٤)

ترجمه:- او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي او الله نېکي کوونکي خوښَوي

په یو بل آیت کې فرمايي: ( وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ ).الشوري : (۳۷) ترجمه: او چې کله هم په غضب شي (نو) دوی بخښنه کوي

په حدیث شریف کې راځي:(عَن معَاذ بن أنس رَضِي الله عَنهُ أَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ من كظم غيظا وَهُوَ قَادر على أَن ينفذهُ دَعَاهُ الله سُبْحَانَهُ على رُؤُوس الْخَلَائق حَتَّى يخيره من الْحور الْعين مَا شَاءَ). رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ وَحسنه.الترغيب والترهيب للمنذري (۳۳۰)

ترجمه:- د معاذبن انس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چاچې غو صه کنترول کړه په دا سې حال کې چې هغه په دې قادر ؤ چې عملي یې کړي، الله تعالی به یې راوغواړي د مخلوقاتو په مخکې او اختیار به ورکړي چې غوره کړي د حورو څخه څومره چې یې خوښه وي.

په نرمښت سره سرسخته دښمن دوست ګرځي او تابع کيږي.الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ).فصلت: (٣٤)

ترجمه:- او نېکي او بدي هيڅکله سره نه برابرېږي. ته په هغې طريقې سره جواب ورکوه چې تر ټولو ښــه وي، نو ناڅاپه به هغه کس چې ستا په مينځ کې او د هغه په مينځ کې دښمني وي، داسې شي ګويا کې هغه ستا ډېر مهربان دوست دی

عبدالله بن عباس رضي الله عنه ددې آيت په تفسير کې فرمايي: (وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ {ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} الصَّبْرُ عِنْدَ الْغَضَبِ وَالْعَفْوُ عِنْدَ الْإِسَاءَةِ فَإِذَا فَعَلُوهُ عَصَمَهُمْ اللَّهُ وَخَضَعَ لَهُمْ عَدُوُّهُمْ). صحيح البخاري (١٢ /٥١)

ترجمه:- د غوصې پر وخت صبر کول او د بدی پروخت عفوه او ښښنه کول، کله چې دوی دا وکړل الله تعالی به دد ښمن څخه وساتي او تابع به کړي ورته دښمن ددوی.

په ژوند کې نرمښت دومره اهميت لري چې نبي عليه السلام فرمايلي دي په لمانځه کې دې په ما پسې نږدې د نرمښت څښتنان او د عقل خاوندان ودرېږي.

عن أبي مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لِيَلِيَنِي مِنْكُمْ أُولُوا الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ). سنن أبي داود (١ /٢٣٧)

ترجمه:- بايد ماته نږدې دې ودرېږي ستاسو څخه خاوندان د نرمښت او خاوندان د عقل بيا هغه چې دوی څخه وروسته دي يعنې مراهقين، بيا دې ودرېږي هغه کسان چې ددوی څخه وروسته دي يعنې مميز ماشومان.

نرمښت هغه غوره کار دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفد عبدالقيس اشج (منذر بن عائذ مصري) ته وفرمايل:(عن ابن عباس رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لأشج عبدالقيس : إِنَّ فِيكَ خَصْلَتَيْنِ يحِبُّهُمَا اللهُ:الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ ).رواه مسلم

ترجمه:- له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اشجع عبدالقيس ته وفرمايل : ته د دوو خويونو درلودونکی يې چې الله هغه دواړه خوښوي : يو حلم او بل صبر او زغم .

الله تعالی په ورځني ژوند کې نرمښت خوښوي. په حديث شريف کې راځي: (عن عائشة رضي الله عنها : أن النبي صلى الله عليه وسلم قال : إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يحبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ). متفق عليه

ترجمه:- له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله د نرمښت او مهربانۍ خاوند دی او په کار کې نرمښت خوښوي .

نرمښت په کار کې برکت اچوي او د کار وزن او ارزښت زياتوي. عن عائشة رضي الله عنها أن النبي صلى الله عليه وسلم قال : إِنَّ الرِّفْقَ لَا يكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ). رواه مسلم

ترجمه:- له بی بی عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : نرمښت په هيڅ کار کې نه وي؛ مګر هغه ته ښايست وربښي او له کوم شي څخه نه وځي مګر هغه بدرنګوي.

د ورځني ژوند په نرمښت کې د جهنم له اور څخه خلاصون دی. په حديث شريف کې راځی:( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ،عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ سَهْلٍ ). سنن الترمذي (٤ /٦٥٤)

ترجمه:- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:آيا تاسوته له هغه چا خبر درکړم چې دهغه بدن په اور حرام دی ؟يا د دوزخ اور په ده حرام وي ؟د دوزخ اور په هر نرمخويه ،آسانی کوونکي اوغوړيدلي تندې والا حرام دی.

د خرڅولو د اخيستونکي سره نرمښت کول او د اخيستونکي له خوا د خرڅوونکي سره نرمښت کول په کار دی او نبي عليه السلام داسې سړي ته دعاء کړی ده چې د خرڅولو يا خرڅولو پر وخت د نرمښت څخه کار اخلي. د حضرت جابر بن

عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:(رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى).صحیح البخاري (٣ /٥٧)

ترجمه:- الله جل جلاله دې رحم وکړي په هغه سړي باندې چې نرمي کوي کله چې کوم شی خرڅوي او یا یې اخلي او یا خپل حق غواړي .

نرمښت د مهربانۍ او رحمت نتیجه ده او په چا کې چې رحمت او مهرباني نه وي په هغه کې نرمښت هم نه وي.په حدیث شریف کې راځي:( عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: لاَ تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلاَّ مِنْ شَقِيٍّ). سنن أبي داود (٧ /٢٩٨)

ترجمه:- له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت شوی، هغه وایي چې ماله ابو القاسم صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې ویل فرمایل:له رحمت او نرمښت څخه یوازې بدبخت انسان بې برخې وي.

علامه طیبی رحمه الله وایي: ددې لامل دادی، چې په مخلوق کي رحمت د زړه نرمي ده او د زړه نرمښت د ایمان نښه ده، د چاپه زړه کي چې نرمي نه وي، د هغه په زړه کي ایمان نه وي او د چاپه زړه کي چي ایمان نه وي، هغه بدبخت دی، څرګنده شوه، د چا له زړه څخه چي نرمي اورحمت ختم شي، هغه بدبخت وي.

د نرمښت بالعکس په ورځني ژوند کې غوصه او قهر انسان ته ډیر دیني او دنیوي مشکلات پیدا کوي، په غوصه او قهر سره خپله انسان ته ذهني او نور جسمي مرضونه پیښیږي، ډیری کورنۍ جوړښت دغوصې له امله ویجاړیږي او له منځه ځي او د خپلولۍ او دوستۍ اړیکې پرېکيږي ،څرنګه چې غوصې د شر ټول ډولونه په ځان کې رانغښتي دي، نو څوک چې غوصه پریږدي په حقیقت کې یې شر پریښی دی او څوک چې شر پریږدي، نو جنت ته به داخل شي .

دا چې د شر ټول ډولونه په غوصه کې راټول شوي دی، دلیل یې دا دی چې کله غوصه پر انسان غلبه ومومي، عقل یې له کاره لویږي او انسان د خپلې غوصې پر بنسټ هوډ نیسي او ځان د هر ډول شر کندې ته اچوي، خو کله چې انسان د خپل نفس سره جهاد وکړي او ځان د دین د غوښتنو سره سم چمتو او برابر کړي، نو غوصه ورځنې لرې کیږي.

په بل حدیث شریف کې راځي: (عن حُمَيدِ بن عبدالرحمن بن عوف : أَنَّ رَجُلًا أَتيَ الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فَقَالَ : يا رَسُولَ اللهِ ! عَلِّمْني كَلِمَاتٍ أَعِيشُ بِهِنَّ، وَلَا تُكْثِرْ عَلَي فَأَنْسَي، فَقَالَ رسول الله صلی الله علیه وسلم : لَاتَغْضَبْ). الموطأ

ترجمه:- له حمید بن عبدالرحمن بن عوف څخه روایت دی چې یوتن نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او وه یې ویل: ای د الله رسوله ! ماته ځینې داسې کلمې وښیه چې په هغو منګولې ولګوم او ژوند وکړم، ډېره ښوونه راته مه کوه چې هیریږي مې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: غوصه او قهر مه کوه.

پهلواني دا نه ده چې یو کس بل کس څملوي، بلکې حقیقي پهلواني هغه د ځان کنترول دی د غصې پر وخت.عن أبي هريرة رضي الله عنه : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : لَيسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ). الموطأ

ترجمه:- له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : پهلواني په زور آزمایلو نه ده، پهلوان هغه دی چې د قهر او غوسې په وخت کې خپله غوسه وزغمي .

نو پر مونږ لازمه ده چې له غصې څخه ځان وساتو ؛ ځکه په اسلامي شریعت کې غصه غندل شوی ده او ډیرې ناوړه دیني، فردي او اجتماعي پایلې لري، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

١- غوصه په اسلامي شریعت کې ناوړه خوی معرفي شوی دی.رسول الله صلی الله علیه وسلم یوسړي ته دری ځله وویل چې غوصه مه کوه.(عن أبي هريرة رضي الله عنه:أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبي صلى الله عليه وسلم: أَوْصِنِي، قَالَ :لَا تَغْضَبْ . فَرَدَّدَ مِرَارًا، قَالَ: لَاتَغْضَبْ).رواه البخاري في صحيحه

ترجمه:- له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه تن پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل : ماته نصيحت وکړه، ويې فرمايل : غوسه مه کوه، سړي څو ځله دا خبره تکرار کړه، پيغمبر صلی الله عليه وسلم بيا هم ورته وفرمايل : غوصه مه کوه .

۲- غضب شيطاني عمل دی او بايد دشيطاني عمل څخه ډډه وکړو. (عَنْ عَطِيَّةَ - وَقَدْ كَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ). مسند أحمد (۲۹ /۵۰۵)

ترجمه:- د حضرت عطيه رضي الله عنه څخه چې هغه صحابي دی څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي بيشکه غوصه د شيطان له خوا وي.

۳- د غضب پر وخت د انسان ښکلی شکل او مظهر بدرنګه کيږي، مخ يې سور شي، سترګې رډې شي، خبرې ګډې وډې شي؛ که چيرې غصه ناک سړی د غصې حالت په سترګو کتلی وای، نو هيڅکله به بيا نه وی په غوصه شوی د بدشکلی له امله.

۴- د غصې پر وخت د خولې څخه حرام او قبيح الفاظ وځي لکه تهمت، کنځل کول، فحش الفاظ ويل چې عقلمند خلک ورڅخه حياء کوي، د غوصې پروخت ځينې خلک قسمونه خوري، خپله ښځه طلاقوي او ځينې وخت کفريات وايې او د فسق خبرې کوي، ځينې وخت چغې وهي خو چې کله غوصه يې سړه شي بيا په ټولو خبرو پښيمانه وي.

۵- په کړو او افعالو د غضب او غوصې بد اثر.د غوصې په وجه د انسان څخه ډير ناوړه او حرام کارونه صادريږي لکه وهل او حتی وژل، ظلم او تجاوز،کله چې ددغو کارونو څخه عاجزه شي نو خپلې جامې شکوي، خپل ځان او نور خلکو وهي ، آن تر دې چې په حيواناتو هم رحم نکوي او حيوانات هم وهي ، لوخي او وسايل ماتوي،او دليوني په شان حرکات کوي او ځينې وخت ورباندې بې هوشي راځي. خلکو ته سپکې سپورې وايې او خلک دده د تسکين لپاره په ځان اعترافونه هم کوي او ځانونه دده په وجه ملامته ګڼي. [مقتبس من تهذيب الأخلاق لابن مسكويه (ص: ۷٤).]

٦- ظاهر د باطن ترجماني کوي، هرکله چې په ظاهر کې په څوک په چا غوصه کوي او په ظاهري بڼه دومره خرابيانې ورڅخه صادريږي ، غوصه په باطن کې له دې زيات زيانونه زيږوي لکه کينه ، دښمني، نفرت، انتقام اخيستلو اراده، ځينې وخت غوصه ناک سړی د مغضوب عليه شخص په بر بادۍ او ناکامۍ پسې ملا وتړي او د هغه رازونه افشاء کوي، او دهغه په خوشحالۍ خپه کيږي.

۷- د غوصې بله بده پايله داده چې دا عقل کمزوری کوي او يا عقل زائلوي . امام ابن حبان وايې: د غوصې سرعت ډير خطرناک دی د اور څخه ؛ ځکه څوک چې غوصه شي عقل يې زائل شي نو بيا هغه څه وايې چې نفس يې غواړي او هغه څه کوي چې تر ټولو بد او مردود وي. [روضة العقلاء (ص: ۱۳۸)]

۸- غوصه سړی د هر ډول نصيحت په مقابل کې ړندوي او ګوونګوي بلکې په نصيحت سره نور هم ګرميږي.

۹- غوصه او غضب د انسان په صحت منفي اثر اچوي او کله کله د داسې صعب العلاج مرضونو سبب ګرځي چې وفات ته خبره ورسيږي.

۱۰- غوصه او غضب انسان د ډيرو دنيوي منفعتونو څخه بې برخې کوي.

حافظ ابن حجر رحمه الله وايي: څوک چې په دې مفاسدو کې فکر وکړي ، نو په دې به پوهه شي چې د (لا تغضب) باريکه کلمه په څومره حکمتونو مشتمله ده چې هغه جلب د مصلحت دی او دفع د مفاسدو ده، کوم چې حسابول او په آخري نقطې ته رسيدل يې متعذر دي . فتح الباري لابن حجر (۱۷ /۲۹۷)